**د زرملوال کورنی**


۱۰/۰۹/۱۰



## مننلیک

داروابنـــاد الـــحاج غلام محی الـــدین زرملـــوال کورنـی دنړۍ په ګوټ ګوټ کې له ټولو درنـو او هېوادپالـــو خویندو او ورونو څخه دزړه له تلې مننه کوي کومو، چې دخدای بښلي زرملـوال صاحب دمړینې له کبله موږ تــه داخـلاص لاسـونه راکـړل، خـوک پـه کانـاډاکي تـر روغتـون اوکـوره پـورې راورسـېدل، چـا دتیلیفـون او برښنالیکونوپه وسیله دمرستې او غم شریکي ډاډ راکړ، چا له کاناډا څخه تر کابله پورې داروابناد دجنازې لارې څارلې او نور ګڼ شمېر بیا دګران هېواد له ګوټ ګوټ څخه د زرملوال صاحب دجنازې او درناوي لپاره کابل تـه رارسېدلي وو په تېره بیاله درنو افغان برښناپاڼو چلوونکو څخه پـه ځانګړې ډول مننـه کووچې پـه خپل وخت یې خبرتیاوې او زموږ د عزتمنوخواخوږو دغمرازې پیغامونه خپاره کړل .

ټولو درنـو هېوادوالـو تـه یـو ځل بیـا کـورودانی وایـو چـې زمـوږ دا درونـد غم یـې راسـره شریک او د زرملـوال صاحب روح ته یې خوښي ور وبښـــله .

اروابنـاد زرملـوال صاحب دروژې په مبارکه میاشت کې دجمعې په ورځ ، الله تعالی د تل لپاره خپلې ښایسته دنیاته په داسې حال کې ورمېلـمه کړ، چې هغه دخپل مظلوم ولس اوهېواد دخلاصون اوسرلوړي لپاره ور په غاړه مسؤولیت په پوره صداقت سره سرته رسولی و .

اوس چې دروژې مبارکې صابرې ورځې او شپې په تېرېدو او دکوچنې اختر په درشل کې یوتاسو قدرمنو او درنو خویندو او ورونو ته دزړه په مینه مبارکي وایو الله (ج) دې موږ او تاسو ته نور غمونه نه را وښې .

دپورتني منتليک سره یو ځای دخدای بښلي زرملوال صاحب دخولي یو څو خبرې هم تاسو ته ډالۍ کوو :
ای د افغان بچیانو ! تر څو بـه د غفلت پـه خوب کې ډوب او یـا ویښ ویده لاس تر زنـې ورتـه ناست او د افغان مجاهد ولس (خدای مه کړه ) زوال او نابودۍ تماشه به کوو، سترګې ورغړوئ او ځیرشئ او دا ومنئ ، چې افغان ولس د مرګ او ژوند لـه سؤال سره مخـامخ او ګران هیواد افغانستان د ډېر بد ګړنـګ پـه غاړه ولاړ دی ، دینـي فریضه ، ملي وجیبه ، او تاریخي رسالت حکم کوي ، چې باید خپل ګران هیواد ، خپل هیوادوال او خپل ګټلـی ویـاړ او موجودیت له زوال او نابودۍ څخه خوندي وساتو ، نور ځنډ ، موږ لـه تبـاهۍ سره مخـامخ کوي . د نن ورځـي کار باید همدا نن وکړو ، د نن ورځې کار سبا ته پرېښودل غلط
کار دی ، ځکه همدا نن ورځ ـ موږ په واک او اختیار کې لرو ، پرون ورځ تېره شوه او سبا ورځ لا رارسېدلي نـه ده ، د سبا ورځې کارونه به سبا کوو.
فلهذا دغه ډېر غنیمت او فرصت وخت دی چې له ټینګي ارادې سره د پاک خدای (ج) په توکل بې له ځنډه د عمل ډګر ته په ډله ایزه توګه ورودانګو، هیواد او هیوادوال ، چې تر نن ورځې په وینو کې ډوب او پـه اور کـې سوځـي ، له نابودۍ او زوال څخه وژغورو.
د تاریخ په شهادت میرویس نیکه په داسې یوه بحراني حالت کې ، چې د هیواد یوه څنډه د پردیو تر حکمروانـي لاندې وه ، کلکه اراده وکړه او د لویې جرګې د پریکړې پر بنسټ یې دښمن نـابوده او د ملـي حکومت پـه جوړولـو بریالی شو ، احمد شاه بابا د عنعنوي لویې جرګې د پریکړې په نتیجه کې د ملـي حکومت پـه جوړولـو بریـالی شـو او ډېر تـاریخي ویاړونـه یـې افغـاني ټولني تـه وربـه برخـه کـړل . بیـا د تـاریخ پـه شـهادت غـازي امـان الله خـان د افغانستان د بشپړ استقلال او خپلواکۍ د تر لاسه کولو په منظور د خپل پلار له سره تېر شو
موږ باید له بې اتفاقي ، خپل منځي شخړو او ورور وژنې څخه لاس واخلو ، او د قرآن کریم د لاندنیو دساتیرو پر بنسټ چـې وایـي : ( و اعتصمو بحبل الله جمیعاً و لا تفرقوا ط ، و لا تکون کالذین تفرقوا ، و امرهم شورای بینهم ط )انفرادي او متفرقه مبارزه نفیه کړو . موږ تاریخي رسالت او ملي مکلفیت لرو ، چې د دین د اداکولو او د ملـي ستونځې د پـای تـه رسولو دپـاره باید پـه ډلـه ایزه توګـه راپـاڅو ، لـه هر ډول ژبنـي ، قومي ، او سمتي تعصب او توپیر څخه لاس واخلو .
بهرنـي یرغلګر ، سره لـدې چـې نـور عصري او پـه مهلکـو وسلو سمبال پوځیـان یـې د ځـان د ملاتړ او د خپلـو کرغېړنو اهدافو دعملي کولو دپاره راوستلي ، د ټنټې په حال کې دی او د خپلو وروستیو سلګیو پـه وخت کـې لـه تفرقه اچولو او نا مشروع ټاکنو سره غواړي چې افغان ولس د خپلي ماتي پـه بدل کـې د ورور وژنـې او خپلمنځـي شخړو په اور کې وسوځوي .
موږ باید په هر هغه ځای کې چې سرې لښونی شي ، لیوني شو ، او په هر هغه ځای کې چې سرې مېـږنی شـي ، مېږني شو او د صادقو ، سالمو او متعهدو انسانانو په صفت یو بل ته د وروړګلوۍ ، همکارۍ او ګډ ژوند لاسونه ورکړو او د سیاسي ، ټولنیز ، ملـي او اسلامي اهدافو د تر سره کولو لپـاره دننـه پـه هېواد کـې د ستونځو ډګر تـه ورودانګو او پـه سر او مـال ملـي مبـارزې تـه دوام ورکړو ، **ځکـه حق ، هیڅـا او هیڅېرتـه د دنیـا لـه بـې مروتـه اربابانو څخه پهٔ تشو خبرو ، مقالو لیکلو ، مرکو ، جرګو ، وړانـدیزو ، زاریو او ننـواتي نـه دی تر لاسـه کړی ، حق اخیستل کیږي.**